د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 411**

(17 چنګاښ – 23 چنګاښ 1402 هـ ش)

## په سویډن کې د قرآن سوځېدل: لاملونه او غبرګونونه




**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

**په دې ګڼه کې لولئ:**


- په سویډن کې د قرآن سوځېدل: لاملونه او غبرګونونه ........ 3
- سریزه ........ 3
- لاملونه ........ 3
- د اسلامي دولتونو غبرګونونه او له دغو دولتونو سره د سویډن پر اړیکو یې اغیزې ........ 4
- پایله ........ 7
- وړاندیزونه ........ 7
- مأخذونه ........ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## په سویډن کې د قرآن سوځېدل: لاملونه او غبرګونونه

### سریزه

هر فرد او ملت د فزيکي او جسماني وجود ترڅنګ روحاني، اخلاقي، نظرياتي او تهذيبي وجود هم لري، لکه څنګه چې د نړۍ هر قانون د يو انسان په جسم باندې حمله منع کړې او د هغې لپاره يې تعزيري جزاګانې ټاکلې دي، په همدې ډول د يو انسان په روحاني او نظرياتي وجود باندې هم حمله جرم دی. په نړۍ کې د ملتونو ترمنځ د سولې او ارامۍ ژوند لپاره اړينه ده چې په ديني او روحاني نظرياتو حملې ونشي او د ديني شعايرو سپکاوی د احساساتو زېږنده ده او طبيعي ده چې احساسات بيا په تشدد بدلېږي او د نړۍ سوله او امن ګواښي، نو ټول ملتونه بايد ديني شعايرو ته احترام ولري.

دا لومړی ځل نه دی چې په نړۍ او په ځانګړي ډول په غرب کې د اسلام مبارک دين د شعايرو سپکاوی کېږي بلکې له دې مخکې په فرانسه کې د چارلي هېبډو مجلې له خوا څو ځلې د رسول الله صل الله عليه وسلم کاريکارتور نشر شوی، په ۲۰۱۲ز. کال کې د امريکا متحده ايالاتو او اسرييلو په ګډو هڅو د يو اسراييلي الاصله امريکايي سام باسل لخوا يو فلم جوړ شو چې د حضرت محمد صل الله عليه وسلم ته په کې سپکاوی شوی و، په ۲۰۰۳ ز. کال کې د تسليمه نسرين له خوا يو ناول وليکل شو چې اسلام ته په کې سپکاوی شوی و، په انګلستان کې د شيطاني اياتو په نامه د کتاب خپرېدل، په هالينډ کې د فتنې په نوم د فلم خپرېدل، يو معتبر امريکايي اخبار (LOSANGELES TIME) په ۲۰۰۵ ز. کال د (مى) پر ۲۲مه نېټه د امريکايانو له خوا د قرانکريم د بې حرمتې په اړه يو مفصل راپور خپور کړ په دې راپور کې په افغانستان، عراق او ګونتنامو کې د امريکايي پوځيانو له خوا د قرانکريم د سپکاوي او بې حرمتي ګڼې پېښې رانقل شوي دي، تېر کال په سويډن کې د ترکيې سفارت مخې ته پالوډن په نوم سياستمدار قران وسوځاوو او دا دی د لوی اختر په مبارکو ورځو کې د د جون مياشتې پر ۲۸مه نېټه د چهارشنبې پر ورځ، ۳۷ کلن عراقي الاصله سويډني سلوان مومیکا د سويډن ستهکولم ښار کې د مسجد مخې ته د محکمې په اجازت او د پوليسو تر څارنې لاندې د قران پاڼې څېرې او وسوځولې. محکمې نوموړي ته د رايې او بيان د ازادۍ په دليل اجازه ورکړې ده. له يادې پېښې وروسته مومیکا يو سويډني اخبار ته ويلي چې راتلونکو لسو ورځو کې به د عراق سفارت مخ ته د عراق بېرغ او د قران کريم يوې بلې نسخې ته هم اور ورته کړي.

### لاملونه

په سويډن کې د قران د سوځولو تر شا لاملونه په دوه لويو برخو وويشلی شو:

**۱ -سياسي لامل:** اکثره وخت سياسيون پخپلو هېوادونو کې د رايو او شهرت پيداکولو په موخه د اسلام مبارک دين سپکاوی کوي تر څو د خلکو رايه ترلاسه او ځان ثوکی ته ورسوي، د بېلګې په ډول: د ۲۰۲۲ز. کال په



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اپریل کې د قران سوځونکی پالوډن یو سیاستمدار و او غوښتل یې له دې لارې رایې لاسته راوړي. نوموړي په ۲۰۱۷ز. کال کې یو یوټیوب چینل جوړ کړ او د هغې له لارې د مسلمانانو او اسلام خلاف تبلیغ کاوو او بیا یې په ۲۰۱۹ز. کال ټاکنو ته ځان کاندید کړ چې ټاکنې یې وبایللې،[i] په ۲۰۲۲ز. کال کې یې قران وسوځاوو تر څو په ۲۰۲۳ز. کال ټاکنو کې ورسره مرسته وکړي، نو د دې کړنو یو سیاسي لامل د رایې او شهرت ترلاسه کول دي.

همدارنګه ځینې پېښې بیا ځانګړي سیاسي لاملونه هم لري د بېلګې په ډول کله چې فرانسې په امنیت شورا کې د فلسطین د دولت ملاتړ وکړ، نو سمدلاسه په فرانسه کې چارلي هیبډو مجلې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کاریکارتو خپور کړ او بیا څو ورځې وروسته د اسراییلو او امریکایي استخباراتو په پلان په هغې مجلې برید وشو تر څو فرانسوي ولس د مسلمانانو خلاف راوپاروي او خپل حکومت دې ته اړ کړي تر څو د فلسطین له ملاتړ څخه په دې موخه لاس واخلي چې هغوی مسلمانان دي او مسلمانان ترهګر دي .

**۲ -مذهبي لامل:** د قران سوځونکي له یوې خوا د اسلام سره د خپلې کینې اظهار کوي او خپله غصه له دې لارې سړوي او له بلې خوا دوي فکر کوي چې په غرب کې به د اسلام د چټک پرمختګ مخه پرې ونیسي. د ګېټ سټون انسټیټوټ د څېړنې له مخې په تېرو څو کالونو کې په انګلستان کې سل زره، فرانسه کې اویازره، سویډن کې پنځه زره، جرمني کې شل زره، هسپانیا کې پنځوس زره او په اسټریا، چیک جمهوریت، ډنمارک، پولینډ، فنلینډ، ایرلینډ، ناروې او پرتګال کې په زرګونو خلک د اسلام په مبارک دین ایمان راوړي. د Faith Mattersد ګروپ د سروې پر بنسټ په مسلمان شویو کې ۷۵ سلنه ښځې او ۷۰ سلنه سپین پوستي دي او اوسط عمر یې ۲۷ کاله دی. .[ii] همدارنګه د نیویارک ټایمز د راپور له مخې په امریکا کې هر کال دوه لکه خلک مسلمانېږي، نو په غرب کې د اسلام مبارک دین داسې چټک پرمختګ له یوې خوا حکومتونو ته د منلو وړ نه دی او له بلې خوا عامو نورو کفارو ته هم دا پرمختګ د منلو نه دی او همدا لامل دی چې دوي خپله دغه غصه او د اسلام مبارک دین سره کینه دغه دین ته د سپکاوي له لارې سړوي او دوي فکر کوي چې په دې کار سره به د اسلام مبارک دین د خپراوي مخنیوی وکړي.

### د اسلامي دولتونو غبرګونونه او له دغو دولتونو سره د سویډن پر اړیکو یې اغېزې

د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې لومړی ځل دا پېښه وغندله او د سویډن پر حکومت یې غږ کړی د یاد عمل ترسره کوونکی دې مجازات او د بیا لپاره دې دا ډول اشخاصو ته اجازه ورنکړي چې د اسلام مبارک دین او مسلمانانو پر ضد داسې وحشیانه او پاروونکې کړنې ترسره کړي.

له دې وروسته یې یوه بله اعلامیه صادره کړه چې د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په ټویټر خپره کړې ده، په دې اعلامیه کې راغلي دي: وروسته له هغې چې په سویډن کې د الله تعالی د نجات بښونکي کتاب قران کریم سپکاوی وشو او د مسلمانانو د عقیدې د توهین اجازه ورکړل شوه، تر څو چې د دې شوم عمل له



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

امله له مسلمانانو څخه عفوه نه وي غوښتل شوي تر هغې اسلامي امارت په افغانستان کې د سویډن هېواد د هر ډول فعالیت د درېدو امر کوي.

پته دې پاتې نه وي چې سویډن په افغانستان کې د سویډش کمېټې له لارې په بېلا بېلو برخو کې په ځانګړې ډول په تعلیمي برخه کې کار کوي او فعلاً یې فعالیت درېدلی دی.

ایران د سویډن شارژدافیر احضار کړی او د پېښې په اړه یې ورته خواشیني څرګنده کړې ده، د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي: د قران سوځول په ښکاره ډول پر اسلامي مقدساتو حمله ده او د دیموکراسۍ او بیان ازادۍ څخه غلطه ګټه اخیستنه ترهګرۍ او افراطیت ته لار پرانیزي.

په لبنان کې حزب الله ډلې پر اسلامي دولتونو غږ کړی تر څو راتلونکې لپاره داسې پریکړه وکړي تر څو نور هېوادونه هم د دا ډول اعمالو له ترسره کولو څخه وډار شي او خپلو وګړو ته یې د بیا ترسره کولو اجازه ورنکړي.[iii]

د اسلامي همکاریو سازمان هم د یکشنبې پر ورځ یاده پېښې غندلې او په راتلونکې کې یې د قرانکریم د سپکاوي پېښو د تکرار د مخنیوي لپاره د ځینې اقداماتو د ترسره کولو غوښتنه کړې ده، په راپور کې راغلي چې دغه اقدامات باید له سعودي عربستان سره په همغږۍ ترسره شي.[iv]

مصر هم دغه پېښه غندلې او دا یې د مسلمانانو د احساساتو سره لوبې ګڼلې دي.

په عراق کې بیا لاریون کوونکي د سویډن سفارت مخ ته راټول شوي وو او له حکومت څخه یې غوښتي تر څو له سویډن سره ډیپلوماتیکې اړیکې پرې کړي. لاریون کوونکو پر سفارت د برید هڅې هم کړي، خو مخه یې نیول شوې ده.

د سوریې او متحده عربي امارتو بهرنیو چارو وزارتونو هم د سویډن سفیر احضار کړی، خپلې اندېښنې او خواشینې ورسره شریکې کړي او دا عمل یې د کرکې او کینې عمل ګڼلی دی.

مراکش بیا په دغه هېواد کې د سویډن شارژدافیر احضار کړی او د سویډن دا عمل یې د نه منلو وړ عمل ورته یاد کړی او نوموړي ته یې ویلي چې دا ډول پېښې د دواړو هېوادونو پر اړیکو منفي اغیز کوي.

د ترکیې جمهور رئیس رجب طیب اردوغان په یو ویډیوي پیغام کې دا پېښه غندلې او د سویډن حکومت یې ملامت کړی دی چې ولې یې دا ډول پېښې ته اجازه ورکړې. نوموړي زیاته کړې چې د بیان او ازادۍ تر نامه لاندې د دې عمل ترسره کوونکي به هېڅکله خپلو موخو ته ونه رسېږي.

سعودي عربستان، پاکستان او یو شمېر نورو اسلامي هېوادونو هم دا پېښه غندلې ده. د اسلامي نړۍ د توندو غبرګونونو وروسته د سویډن لومړی وزیر Ulf Kristersson ویلي: دا کار قانوني و، خو مناسب نه و.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سره له دې چې د دولتونو ترمنځ په اړيکو کې نن ورځ ملي ګټې په نظر کې نيول کېږي او تر ډېره مذهبي امور په پام کې نه نيول کېږي، خو د اسلامي دولتونو په ملي ګټو کې بايد مذهب او دين شامل وي او ځينو دولتونو لپاره دا ملي ګټه هم ده، نو پر همدې بنسټ په سويډن کې ترسره شوې دغه پېښه به د سويډن اړيکې له اسلامي نړۍ سره خرابې کړي او له اسلامي دولتونو سره به د سويډن پر اړيکو منفي اغيز وکړي. د دې اغيزو عملي بېلګه د ترکيې او سويډن اړيکې دي چې تير کال په سويډن کې د ترکيې سفارت مخې ته پالوډن په نوم سياستمدار قران وسوځاوو چې له امله يې ترکيې توند غبرګون ونښوده او ان تر دې چې په ناټو کې د سويډن د غړيتوب مخالفت يې وکړ، له دې پېښې وروسته هم د ترکيې جمهور رئيس خپل جرمني سيال سره د تلفوني اړيکې پرمهال ويلي دي چې سويډن به د دې ډول ناوړه اعمالو له امله هېڅکله هم له ترکيې څخه د ناټو د غړيتوب په برخه کې شين څراغ ترلاسه نه کړي.[۷] سويډن تير کال په ناټو کې د غړيتوب غوښتنليک جمعه کړی دی چې د ترکيې له مخالفت سره مخامخ شو له هغې وروسته د سويډن او ترکيې ترمنځ مذاکرات ترسره شول او داسې معلومېده چې ترکيې راضي شوې ده، خو د قران د سوځولو له پېښې وروسته اردوغان يو ځل بيا په ناټو کې د سويډن د غړيتوب موضوع کې مخالف دريځ ښودلی دی، خو تيره اونۍ ترکيه د مذاکراتو له لارې قانع شوې او په ناټو کې يې د سويډن غړيتوب منلی دی، خو ورته مهال يې له سويډن څخه غوښتي تر څو په راتلونکې کې د دا ډول پېښو مخه ونيسي.

د اسلامي دولتونو ترڅنګ ځينې نامسلمانو دولتونو هم دا پېښه غندلې ده. امريکا متحده ايالاتو هم په سويډن کې له يو مسجد بهر د قران سوځېدل غندلي دي. د امريکا متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت وياند ميتيو ميلر په يوه خبري غونډې کې د يو ژورناليست د پوښتنې په ځواب کې وويل: موږ د قران سوځول غندو او په دې اړه ژوره اندېښنه لرو.

د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين هم دا پېښه غندلې او د داغستان يو تاريخي جومات ته د سفر پرمهال يې په داسې حال کې چې قران کريم يې سينې پورې جوخت نيولی و، وويل: په ځينو هېوادونو کې قران کريم ته سپکاوی جرم نه ګڼل کېږي، خو دا د مسلمانانو مقدس کتاب دی او روسيه يې توهين جرم ګڼي او له نورې نړۍ هم غواړي چې دې کتاب ته درناوی ولري.

ورته مهال د جولای پر ۱۲مه نېټه د ملګرو ملتونو بشري حقوقو کونسل (The United Nations Human Rights Council (UNHRC)غونډه وکړه او په سويډن کې د قران سوځېدلو په اړه يې يو پريکړه ليک چمتو کړ، په دې پريکړه ليک کې ياده پېښه غندل شوې او له هېوادونو غوښتنه شوې چې خپل قوانين دې اصلاح او مذاهبو ته سپکاوی بايد په کې جرم وګڼي. دغه پريکړه ليک ته ۴۰ هېوادونو استازو رايه وکاروله چې ۲۸ هېوادونو تاييد او ۱۲ هېوادونو يې مخالفت کړی دی .

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

همدارنگه دا ډول پېښې د مذهبونو د ټکر او سپکاوي لامل کېږي، کېدای شي بله ورځ د یو بل مذهب لارویان راپاڅېږي او نورو مذهبونو ته سپکاوی وکړي او د مذهبونو د سپکاوي دا ډول کړنې خطرناکې پایلې لري او عملاً په سویډن کې د قران د سوځېدلو له پېښې یوه اونۍ وروسته د جولای د میاشتې پر ۱۵مه نېټه په سویډن کې یو مسلمان چې احمد الوش نومېده له محکمې اجازه واخیسته تر څو په دغه هېواد کې د اسراییلو سفارت مخ ته تورات او انجیل وسوځي، خو بیا یې له سوځولو ډډه وکړه او خلکو ته یې پیغام ورکړ تر څو د مذهبونو له سپکاوي لاس واخلي.

## پایله

په غرب کې د اسلام مبارک دین ته د سپکاوي دا لومړۍ پېښه نه ده، بلکې له دې وړاندې په لسګونو داسې پېښې ترسره شوي دي، د سیاسي لاملونو ترڅنګ دا ډول پېښې مذهبي لامل لري او دا لامل یې بنسټیز دی ځکه په غربي نړۍ کې د اسلام مبارک دین ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې دی او غربی چارواکو ته دا د منلو وړ نه دی. دا ډول پېښې سره له دې چې توهینوونکي دي، خو بیا هم اسلامي نړۍ او مسلمانانو لپاره ځینې فرصتونه برابروي ځکه د اسلامي دولتونو په یو غږ توند غبرګونونه او د مسلمانانو په یو غږ راپورته کېدل په خپل ذات کې د مسلمانانو د وحدت او اتحاد لپاره د خبر زېری دی. دا ډول متحد غبرګون اسلامي حرکتونو او په عمومي ډول ټولو مسلمانانو ته دا ورښايي چې په دغه امت کې لا تر اوسه د ایمان سکروټه بله ده، خو یوازې د هغې څخه سالمه ګټه اخیستل په کار دي او د دې کار لپاره داسې قیادت رامنځته کیدلو ته اړتیا ده چې د امت سپېڅلي احساسات د خېر په لورې توجیه کړي.

## وړاندیزونه

۱ -د اسلامي هېوادونو کنفرانس او اسلامي دولتونه باید په ګډه په داسې یوې تګلارې کار وکړي، تر څو راتلونکې کې د دا ډول پېښو مخنیوی وشي. په دې تګلاره کې کېدای شي په ګډه له هغه هېواد سره د اړیکو پریکون شامل وي چې د دا ډول اعمال د ترسره کېدو اجازه ورکوي.

۲ -همدارنګه د قران کریم په سوځولو سره غربیانو یو ځل بیا د اسلام سره خپله دښمنې وښوده، نو هغه اسلامي هیوادونه چې د غرب په لومو کې ګیر دي او غرب ورته وايي چې موږ به تاسې ته دیموکراسي او ازادي راولو دا ټول د هغوي دوکه او چل دی په اصل کې هغوی د اسلامي هیوادونو نابودي غواړي، نو اسلامي دولتونه باید خپل دوست او دښمن وپېژني او نور له غربي لومو رابهر شي.

۳ -ټول اسلامي دولتونه د افغانستان په ګډون باید مذهب او دین په نړیوالو اړیکو کې ملي ګټو تر ټولو د مهم عنصر په توګه وپېژني او د بهرني سیاست له لارې یې عملي کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**مأخذونه**

[i] Sweden riots over Quran burning: What is happening? ALJAZEERA, 19 Apr 2022, Sweden riots over Quran burning: What is happening? | Explainer News | Al Jazeera

[ii] Soeren Kern, Europeans Increasingly Converting to Islam, January 27, 2012, Access link: Europeans Increasingly Converting to Islam :: Gatestone Institute

[iii] Koran burning in Sweden angers Muslim world. The man who did it plans to do it again, South China Morning Post, 30 Jun, 2023, https://www.scmp.com/news/world/europe/article/3226031/koran-burning-sweden-angers-muslim-world-man-who-did-it-plans-do-it-again.

[iv] https://www.dw.com/ps/%D8%AF-%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A-%D9%87%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%B1%D9%8A%D9%88-%D8%B3%D8%A7%D8%B2%D9%85%D8%A7%D9%86-%D8%AF-%D9%82%D8%B1%D8%A7%D9%86%DA%A9%D8%B1%DB%8C%D9%85-%D8%B3%D9%88%DA%81%D9%88%D9%84%D9%88-%D8%B6%D8%AF-%D8%A7%D9%82%D8%AF%D8%A7%D9%85%D8%A7%D8%AA%D9%88-%D8%BA%D9%88%DA%9A%D8%AA%D9%86%D9%87-%DA%A9%DA%93%DB%90/a-66094146

[v] Koran burning in Sweden angers Muslim world. The man who did it plans to do it again, South China Morning Post, 30 Jun, 2023, https://www.scmp.com/news/world/europe/article/3226031/koran-burning-sweden-angers-muslim-world-man-who-did-it-plans-do-it-again

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000